د خپل یاد په جزیرو کښې

# ډاکټر خانصاحب او "نابالغه" اولس

پاتې برخه

م-ر-شفق

پېرنګي موران راخوارۀ کړي وو، د سیاسي سازشونو لوبه ئې توده ساتلې وه، قاربدلے پاربدلے اولس د ډاکټر خانصاحب د بنګلې نه تاؤ شول او کاڼي ئې ورول، شیشې دروازې ئې ماتولې او نعرې سُورې ئې وهلې، کۀ ډاکټر خانصاحب غوښتلے نو احتجاج کوونکو ته به ئې د اسمان ستورې ښودلي وو، ولې هغه په خپل اولس مئین، د امن او عدم تشدد د فلسفې عملي مبارز او لارښود ؤ، خو کله چې خبره د سرېتوب له حده ووته نو خان صاحب د "وزیراعلي استوګنې" د بام سر ته ورو ختلو او سیاسي وران کارو ته ئې غږ وکړو:

"ګورئ نابالغو! دا بنګله زما نۀ ده، دا خو قامي ملکیت دے، تاسو کۀ شیشې ماتوئ او په دې بنګله اور هم پورې کړئ، نو خپل نقصان به کوئ" نابالغو! "زما کور په اتمانزو کښې دے، کۀ ما له زور تاوان راکوئ نو هلته راشئ، بیا به زۀ ستاسو نرتوب ومنم چې تاسو څنګه زما په کور حمله کوئ!" ستاسو داسې کړي."او بیا په لمسون راپاربدلي مخالفین، سر ښکته ملامته روان شو.

د فیلډ مارشل محمد ایوب خان د زوال ورځې وې، د هوتي کلپانۍ شګو کښې د مخالف جمهوري ګوندونو یوه درنه جلسه وه د ټول پاکستان لوړ قامته سیاسي لارښودانو، سردار شوکت حیات خان، میا ممتاز دولتانه، میا محمود علي قصوري او نورو د اعلي پایې تقریرونه وکړل. دې کښې د ګوجرو ګړۍ (مردان) میا شاکر الله باچا سټېج ته راوبللے شۀ، دۀ ووې "تقریرونه تاسو واورېدل، دې کښې دوه ټکي بیا بیا تکرار شو، یو ډکټېټر شپ یعنې امریت بل ډېموکرېسي یعنې جمهوریت- امریت او جمهوریت څۀ ته وائي نو زۀ به د تقریر په ځائے تاسو ته دوه د سترګو لیدلې واقعې بیان کړم.

(اکتوبر ۱۹۵۸ء کښې) چې فیلډ مارشل ایوب خان په ملک کښې مارشل لاء ولګوله نو په یو فوځي عدالت کښې زما پېشي وشوه، فوځي واکدارانو راته حکم واورولو چې ستا ټول جائداد ضبط کړے شۀ، ما وئیل ښه ده، بیا ئې ووې تۀ دومره کاله قېد شوې، ما وې لا ښه شوه، بیائې راته ووې تۀ به دومره لکه روپۍ جرمانه ورکوې ما ورته ووئیل، دې کښې به یوه خبره وکړم، هغه دا چې د ګټې امدن ایکي یوه ذریعه خو زمکه جائداد ؤ، هغه تاسو ضبط کړلو، چې د قېد سزا مو راکړه نو لکه تاسو وتړلم، اوس خو به څۀ لاس پښه هم نۀ شم خوځولے، نو جرمانه به له کومې راوړم؟ فوځیان راته په قار شو چې مونږ په یوه پوهېږو، بس دغه حکم دے، کۀ زړۀ دې ښۀ وي او کۀ بد.

(ب) میا شاکر الله باچا بله واقعه داسې بیان کړه چې د ډاکټر خانصاحب وزارت ؤ، ځائے ته

ورغلے وم نورو خلقو سره په انتظار ناست وم دې کښې يو سپين ږيرے سړے څۀ ډېر خشمېدلے راغے، وئيل ئې زۀ وزيراعلي سره وينم، سپاهي ورله مخه وهله نو دے نور په غصه شو، زۀ ورپاڅېدم پوښتنه مې ترې وکړه "مشره! تا ته څۀ تکليف دے؟" هغۀ ووئيل يو ګاونډي زميندار زما پُوله وهلې ده، زۀ دې وزيراعلي صاحب پسې راغلے يم چې ماسره پټې ته لاړ شي او په خپله موقع وګوري!! شاکر الله باچا وئيل چې دا خو د پټواري ګرداور او تانې تحصيل خبره ده دلته راتلو ته څۀ حاجت ؤ؟ سپين ږيرے بيا غصه شۀ "زۀ په وزيراعلي پسې راغلے يم، هم دے به راسره ځي او دے څوک دے چې نۀ به ځي؟ د دۀ هغه ښځه به هم ځي." شور زيات شۀ، نو ډاکټر خانصاحب په خپله رابهر شۀ، تپوس ئې وکړو "څۀ دې نابالغه!" سپين ږيري ورته خپله کړمه بيان کړه. ډاکټر صاحب ورته ووې "بس جامې بدلوم او دا دے راځم". څو لحظې پس چې ډاکټر خان صاحب د بنګلې نه راروان شۀ نو خپله مېم صاحب ئې هم لاس نيولې راروانه کړې وه. ما (شاکرالله ميا) پوښتنه وکړه مېم صاحب څۀ کوي؟ نو خانصاحب مُسکے شۀ، وئيل ئې دې مېلمه غوښتل چې د وزيراعلي ښځه به هم ځي نو ځکه مې مېم صاحب هم ځان سره ملګرې کړه".

ميا شاکر الله باچا چې دا دواړه واقعې بيان کړلې نو خلقو ته ئې غږ وکړو!

"اوس مو خپله خوښه کۀ آمريت غواړئ نو جائداد ضبط، د قېد سزا بيله او جرمانه به هم ورکوئ او کۀ جمهوري نظام خوښوئ نو ستاسو کار خدمت له به وزيراعلي څۀ چې د وزيراعلي ښځه هم ځي.

په دې حواله يوه بله و اقعه ما د خپل والد صاحب (مولانا محمد عنايت الله) نه څو څو ځله اورېدلې وه، هغوي وئيل د خدائي خدمتګارۍ تحريک په دور کښې ډاکټر خانصاحب سره زما څۀ رسمي پېژندګلو يا راشه درشه نۀ وه خو د چا يار اشنا څۀ مسئله وه او په دغه حواله وزيراعلي سره ليدل ضروري وو، د ميا شاکرالله باچا (ګوجرو ګړی) په ډاډ ورغلو، څۀ وخت چې ډاکټر خانصاحب ملاقاتيانو ته وزګار شۀ نو عين په دغه وخت يو سړے اوتر اوتر لکه چې ساګ ئې سيلۍ وړې وي، رامخکښې شۀ او په ژړغوني اواز کښې ډاکټر خانصاحب ته لګيا شۀ، وئيل ئې خپلې علاقې(؟) ته روان وم، پېغلوکې لُور هم راسره وه، نظام پور کلي کښې مې شپه راغله، سحر چې پاڅېدم نو لُور مې نۀ وه، دغه کلي کښې ورپسې لې په لې وګرځېدم خو هېڅ پته درک چا رانۀ کړل ځکه نو تاسو له په فرياد راغلے يم. ډاکټر خانصاحب رنګ تغير شۀ ناستو مېلمنو ته ئې ووې تاسو به ماله يوه ګېنټه وخت راکړئ، زۀ دې سړي سره ځم، دا خو د ټول قام د پاره د شرم خبره ده. دعا کوئ چې معامله سمه شي. ډاکټر خانصاحب دغه لاروے مسافر ځان سره موټر کښې کښېنولو، د پوليس ګاډے ورسره هم روان شۀ، نظام پور ته چې څنګه ورسېدل نو د کلي حجره کښې ئې سپين روبي مشران راجمع کړل او په ولاړه ولاړه ئې ورته وېنا وکړه چې د دې مېلمه لُور پېريانو نۀ ده تښتولې هم ستاسو په دې کلي کښې ده، زۀ ټول کلي ته صرف يوه ګېنټه مهلت ورکوم، دا سړے به دلته هم دې پوليسانو سره ناست وي، زۀ واپس ځم او غواړم چې دغه وړه خپل پلار ته په حيا عزت کښې واپس کړے شي.

نور بيا